مسؤولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ژباړن : سیلانی ۲۰۲۰/۱۰/۱۱

# د پروفیسور لطیف ناظمي پر « زبان گهربار ما فارسی/پارسی است »، د رفعت حسین او دوکتور خالدي نقد

پرون مې یو دوست یوه لیکنه راته رالېږلې وه، چې په هغهٔ کې یې یوه متن کاپي کړی و، په کاپي شوي متن کې لیکل شوي و:«

فرهنگ و اندیشه

<زبان گهربار ما فارسی/پارسی است>

دا ځېرنیزه او ارزښتناکه لیکنه د ښاغلي پروفیسور لطیف ناظمي په غښتلي قلم لیکل شوې ده. ښاغلی ناظمي د فارسي ادبیاتو استاد دی. دی په دې برخه کې دوه دکتوراوې ( P.H.D ) لري او د نړیوالو جوایزو ګټونکی هم دی. نوموړی د لیکوال ترخنګ د فارسي ژبې نوموتی شاعر هم دی. »

زهٔ غواړم د ناظمي صاحب د يادي شایعي پهٔ هکله درنو دوستانو ته کره معلومات وړاندې کړم. زهٔ د « افغانستان سرزمین خورشید» لیکونکی، مجبور یم چې د ناظمي د کاذبو ادعاوو پهٔ هکله داسې ولیکم:

هغهٔ ۳۰ کاله وړاندې پهٔ کابل کې پوهنملي علمي رتبه درلوده، نو پوهاند نهٔ دی. وروسته لهٔ هغهٔ د آلمان هېواد ته مهاجر شو او دلته د کوم پوهنتون دايمي علمي غړی نهٔ دی پاتې شوی. همدارنګه پهٔ جرمني کې لهٔ پناهندګۍ وروسته دهٔ کومه عملي مقاله او اثر چې د اکدمیکو معیارونو سره برابره وي نهٔ ده خپره کړې. ښاغلی ناظمي پهٔ هېڅ صورت د دوو دکتوراوو ( P.H.D ) درلودونکی او همدارنګه د نړیوالو جوایزو ګټونکی نهٔ دی. پهٔ پای کې باید ووایم چې هغه د فارسي ژبې نوموتی یا لوی لیکوال هم نهٔ دی.

(رفعت حسینی)

## د پروفیسور لطیف ناظمي پر « زبان گهربار ما فارسی/پارسی است »، د دوکتور خالدي نقد.

د «فرهنګ و اندیشه» پهٔ پاڼه کې د پروفیسور لطیف ناظمي، چې د فارسي ادبیاتو استاد دی، یو لیکنه د «گهربار ما فارسی/ پارسی است» تر سرلیک لاندې خپره شوې ده.

هغه څهٔ چې ښاغلي لطیف ناظمیلیکلي ورسره ستونزه نهٔ لرم او ورسره موافق یم. هغه دا چې د دري، فارسي او تاجیکي ژبو ریښې یوه ګڼم. پهٔ ځانګړې توګه د دوکتور محمود افشار یزدی لهٔ دې نظر سره ډېر موافق یم چې لیکي:

«دري ژبه مخکې لهٔ دې چې ایران پورې وتړل شي، دا ژبه د افغانستان او تاجیکستان ژبه وه. ځکه ددې ژبې پيدايښت او پايښت پهٔ پخواني خراسان، ماوراءالنهر( بخارا و سمرقند)، بلخ او غزني کې شوی دی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

روډکي، عنصري، فردوسي، فرخي او داسې ډېر غښتلي ليکوالان او شاعران په خراسان کې زېږېدلي او ستر شوي دي. سعدي، حافظ او دې ورته نور شاعران څو پېړۍ را پيدا شوي.»

مګر د ناظمي له وروستۍ جملو سره موافق نه يم، چې ليکي:« زموږ ژبه فارسي يا پارسي ده...» ناظمي له علمي استدلال پرته په خپلو ليکنوکې د «دري» کلمه غورځوي. ناظميد هرات ولايت دی. هغه سيمه چې د تيموريانو په وخت کې د خراسان پلازمېنه وه.

د عربو مؤرخينو په ليکنو کې، د عربو له خوا د خراسان د نيولو پر مهال د خراسان د وګړو ژبه په وضاحت سره دري ياده شوې ده. دا چې ښاغلی ناظميولې د دري ژبې پر ځای خپله ژبه فارسي ګڼي، کېدای شي لامل يې داوي چې ايراني ملګري يې خفه نشي.

د فارسي ايراني په ټولو معتبر وپانګو ( دهخدا، معيين، حييم) کې د دري ژبې په پېژندنه کې راغلي دي، چې دري ژبه د پخواني خراسان او ماوراءالنهر د وګړو ژبه وه. ساسانيان؛ چې دعراق عجم ( اوسني ايران اوسېدونکي) همدا دري ژبه له اسلام وروسته د پهلوي ژبې پرځای د خپلې ژبې په توګه ومنله او د ايران نن مروجه ژبه ( فارسي) له هماغې پخوانی دري ژبې څخه لاسته راغلې.

هغه څه چې ناظمې په هکله وضاحت نه ورکوي، هغه دادی چې ولې دري ژبې ته فارسي يا پارسي وايي. دا په داسې حال کې ده چې پخپله ناظميدامني چې: « دا ژبه له فارس يا پارس سره هېڅ اړيکه نه لري.»

کله چېرې دا منو چې د دري ژبې د زېږېدو ځای پخوانی خراسان، ماوراء النهر( بخارا و سمرقند)،بلخ او غزنی دی. همدارنګه هم مهاله او موازي د ايرانيانو له ژبې ( پهلوي) سره مروجه شوې ده، نو پر همدې بنسټ منطقاً دا نشي کېدای چې «فارسي/ پارسي» ژبه دې د عراق عجم د جنوب لوېديځو وګړو ژبه وي. د دري پر ځای د فارسي کلمې مروجېدل هغه وخت تر سره شول، کله چې دري ژبه په عراق عجم کې خپره شوه او ريښه يې د پارتي اشکانيانو دور ته د پارثي/ پارتي کلمې پورې رسيږي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ